مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

افغان گل بې ګناه ۲۰۱۹/۰۵/۰۸

# اهل نفاق ماتې وخوړه!

په مشورتي لويه جرګه کې اهل نفاق او منافقينو ماتې وخوړه.
الله ج انشاءالله نور افغانستان ته خپله اراده نېکه کړې ده. د بې باورۍ حالت کرار کرار په کمېدو دی او باطل خپل ځای کرار کرار حق ته خوشي کوي.
د مشورتي لويي جرګې د جوړېدو په هکله هرچا يوه نه يوه اندېښنه درلوده.
د ولس اندېښنه دا وه، چې اهل نفاق لويه جرګه سبوتاژ او د باطل لور ته يو نسي، د سولې پرځای د جګړې د دوام لپاره يې ونه کاروي او سولې ته پرې خنډ وا نه چوي. که څه هم د جرګې په داخل او بهر کې داسې هڅې ترسره شوې، خو د چا وس پرې ونه رسېده. يوشمېر اهل د نفاقو دغه جرګه تحريم کړه، يوشمېر نورو بيا د جرګې په وروستی ورځ د جرګې درې مهمې غوښتنې(د بهرنيو ځواکونو د وتلو د مهال وېش اعلان، د سولې شورا په نوم، د سولې د مخنيوي شورا د ترلو او له حکومت څخه د فاسدانو د شړلو غوښتنې) له اعلاميې وغورځولې، خو بيا هم جرګې وکولای شول خپل پيغام، ولس او نړۍ ته ورسوي.
د ولس غوښتنه له دې جرګې دا وه چې حکومت او نړۍ ته ووايي، چې نور پر افغان ولس تپل شوې جګړه بايد پای ته ورسوي او د جګړې ټول اسباب او وسايل له منځه يوسي، لکه صادر شوې نومونه او ناروا تبليغات، د بهرنيو ځواکونو شتون او راتپل شوی د زورمندانو، فسادسالارانو او بداخلاقو ناروا واک.
د حکومت اندېښنه دا وه چې ګوندې ولس ورسره لکه د يوه پردې او رټل شوې حکمې شخصيت په توګه چلند ونه کړي او د دوی دغه کار د حکومت په وړاندې د اهل نفاقو موقف نور هم پياوړی نه کړي؛ خو جرګې په دې برخه کې خپل رغنده رول په پوره امانتدارۍ او زړورتيا ولوباوه او په حکومت کې متفقينو ته يې پيغام واستوه، چې دوی دې له ولس نه اندېښنه نه لري، څکه ولس محاسبه او قوه د تفکيک لري، د متفقينو او اهل نفاق ترمنځ پوره توپير کولای شي. يعني هغوی چې اهل د نفاق نه دي، د ولس بچې او ولس ته وفاداره دي، هغوی اوس هم په ولس کې ځای لري او د دوی خادمين دي او ورته د اندېښنې ځای نشته او د دوی پرځای هغوی دې اندېښنه ولري، چې اهل د نفاق دي او د يوشمېر پرديو سفارتونو د حمايت، ټوپک، ناروا پيسو، باډي ګارډ، ډلو، ټپلو، غصب، واک، تيرې، څوکۍ او ظلم پرمټ دغه ملت د محروميت، مظلوميت، بې ننګۍ، بې عزتۍ او بې پتۍ ګودال ته ټېل وهلی.
لويې جرګې روښانه پيغام ورکړ چې حکومت او نظام زموږ خپل حکومت او نظام دی، جوړوونکي يې موږ وو، قرباني مو ورته ورکړې، سربښندنې مو ورته کړې، اصول او قوانين مو ورته وضع کړي؛ خو پاک لاسي، مهربانه، په کار پوه، متعهد او وفاداره چارواکي ورته غواړو، نه هغه چارواکي چې دغه نظام او حکومت يې يرغمل کړی، خپل شخصي سهامي شرکت يې بولي، له واک او څوکۍ نه په ګټه خپل جيبونه ډکوي، ځمکې غصبوي، د خلکو لوټې او ناموس د سکرتريت په پلمه په کنيزۍ نيسي او د خپلې ساتېرۍ وسيله يې ګرځوي، د ولس په پيسو بهر او دوبۍ ته ورځي او خپله عياشي پرې کوي او په ټول هېواد کې د فحشا او فساد د دودولو هڅې پرمخ بيايي. يعني آس زموږ خپل دی، خو کته يې بدلول غواړي.
همدا وو چې لويې جرګې پرېکړه وکړه، چې اساسي قانون، اسلامي جمهوريت، د واک تاکنيز سيستم يې سرې کرښې دي او هيچا ته به اجازه ور نه کړي، چې د سولې د خبرو او پخلاينې په نوم يې قرباني او معامله کړي.
هغوی چې پوهېدل نور په ملت کې ځای نه لري، رټل شوي دي، نو ډېری يې يا جرګې ته رانغلل او يا يې جرګه تحريم کړه.
دوی که د حکومت په ليکو کې وو او که د طالبانو په ليکو کې، خو جرګې دوی ته په ډاګه ووېل، چې نور دې له خپلې خدعې، پلمو، واک، حکومت او سولې له يرغمله، جګړو او نفاقه لاس واخلي، د ولس او سولې له مخې دې لرې شي او خلکو ته اجازه ورکړي چې د وروړګلوۍ او سولې په فضا کې په مينه او محبت سره واوسېږي.
جرګې همداراز ووېل چې د يوه مسلمان ملت په توګه دوی تر بل هرچا د رسنيو او بيان آزادۍ، د ښځو او بشري حقونو او استلزاماتو اهميت ښه درکولای شي او دا لاسته راوړنې به په هېڅ قيمت له لاسه ور نه کړي او سوله نه دا چې د دې ارزښتونو د ورکړې په معنا نه ده، بلکې د دې ارزښتونو د ساتنې او پياوړتيا په معنا ده.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

دوی له رسنیو وغوښتل چې نور هم خپل رسالت ته متوجه شي، د اهل نفاق د لاسونو آله ونه ګرځئ، خپله لهجه نوره هم نرمه او د پخلاینې وسیله وګرځوي.

جرګې وویل چې ملي امنیتي ځواکونه د ولس بچیان او د همدغه بېوزله خلکو اولادونه دي او د هېڅ یو زورمند، وزیر، رئیس، جهادي رهبر، قوماندان، فساد سالار او غاصب اولادونه په کې نشته او دغه ځواکونه په یو نه یو ډول د خپل هېواد له پولو، اسلامي او ملي نوامیسو، ارزښتونو، قانون له تنفیذ، امنیت او پرمختګ نه ساتنه کوي، نه دا چې له منځه به نه ځي، بلکې د طالبانو ځواکونه به هم ورسره مدغم کېږی، د مفسدینو او زورمندانو له یرغمله به خلاصیږي، ازادۍ ته به رسیږي او په دې توګه به نور هم پیاوړي کیږي.

د همدغه وړاندوینې او پلان له مخې وه چې جرګې په ډاګه کړه د یوه پیاوړي او خپلواکه ملي وسله وال ځواک په شتون کې د هېواد امنیت ساتل کېدای شي او د بهرنیو ځواکونو د شتون اړتیا منتفي کیږي او له دې سره سم بهرني ځواکونه باید په مسوولانه ډول افغانستان پرېږدي او د یوه مهال وېش له مخې خپلو هېوادونو ته وګرځي.

د یو سرلوړي، تاریخي او بافرهنګه ملت په توګه، دوی هېڅ هېواد ته ونه ویل چې د افغانستان دښمن دی، هغوی چې په رښتینتوب سره د افغانستان تر څنګه ولاړ وو له هغوی یې مننه وکړه او ویې ویل چې د نړۍ له ټولو هېوادونو سره رښتینې او صمیمانه اړیکې غواړي.

سره له دې چې د یوه مهالوېش له مخې له هېواد څخه د بهرنیو ځواکونو د مسوولانه وتلو غوښتنه د لویې جرګې د ټولو ۵۱ کاري کمېټو د ګزارشونو سرټکی و، خو په اعلامیه کې د جرګې دې غوښتنې ته ځای ور نه کړ شو او لاملونه یې هم په ډاګه نه شول چې ولې دغه غوښتنه په اعلامیه کې رانغله.

که دې مسالې ته په ډېرې خوشبینۍ سره وګورو، نو کېدای شي د دې لپاره یې له اعلامیې غورځولې وي چې د قطر د سولې پر خبرو، چې هم مهاله له جرګې سره پرمخ تلې، ناوړه اغېز ونه کړي؛ خو بیا هم دغه د ولس او جرګې غوښتنه وه او باید په روښانه ټکو او قوت سره په اعلامیه کې راغلې وای.

له بلې خوا، دغه یوه حساسه مساله هم ده، ځکه د چین، روسیې او امریکې د درې اړخیزې غونډې پرېکړه هم ده او هم طالبان یې د سولې لپاره خپل لومړنی شرط ګڼي.

ولس هم له دې مسالې سره ډېر حساسه دی، ځکه په تېرو ۱۹ کلونو کې کورنیو او بهرنیو اهلو د نفاق او جګړې، مافیا او حرفوي مفسدانو د بهرنیو ځواکونو له موقفه د افغان ولس په وړاندې ناوړه ګټه پورته کړه، د هغوی شتون، مالي امکانات او پوځي غښتلتیا یې د ځانونو د ناروا واک، شتمنېدو، بقا او د حکومت او ولس د محکومیت او یرغملتیا لپاره وکارول.

افغان ولس له طالبانو سره په یو غږ د بهرنیو ځواکونو شتون او د مفسدانو او اهل نفاق ناروا واک او بقا نور په خپل هېواد کې نه غواړي، دوی ته په مخه ښه وایي او کومه جفا چې رامنځته شوې د اهلو د نفاق، مفسدانو او زورمندانو چالاکي او د بهرنیانو تېروتنه او دوپه کېدل بولي، نو ځکه کومه دښمني ورسره نه لري او د دوی د تېروتنو د جبیره کولو په هدف د یوه فرصت په توګه، په راتلونکې کې ورسره د ښه اړیکو غوښتونکي دي.

که څه هم جرګې د عمومي ښښنې غوښتنه وکړه، خو دا چې په کورنۍ او بهرنۍ کچه د اهلو د نفاق، مفسدانو، جګړه ییزې مافیا او زورمندانو ګواښ نه دی منتفي شوی او دوی به خامخا د سولې مخالفت او مخنیوی کوي او دا چې ترحم پر ظالمانو پر مظلومانو د بې رحمۍ سبب نه شي او په راتلونکې کې ظلم او زورواکي د ټولنې یو دود ونه ګرځي، نو دا کار د اوس لپاره یوڅه ناشونی ښکاري.

یوشمېر رسنیو د جرګې د پرېکړو د اجرائیوي ضمانت په ډېره اندیښنه درلوده او له سیاسي کارپوهانو یې پخپلو بحثونو کې پوښتل چې د دې جرګې د پرېکړو اجرائیوي ضمانت به څوک کوي.

که څه هم ولسمشر د جرګې په وروستۍ ورځ وویل چې دغه اعلامیه به زموږ د سولې د لارې نقشه او پلان وي، خو په دې سربېره خپله ولس د دې اجرائیوي ضمانت دی، سوله نور یقیني شوې، په کورنۍ او بهرنۍ کچه ډېری ولسونه یې غوښتونکي دي او انشاءالله په شا ګرځېدونکې نه ده.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ